مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدۀ نو یسنده لزوما نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر
۲۰۱۹/۰۶/۲۰

# د سید حسن (حسن شیون ) په ویاړ

**د وطن یو دردمن او دروند وطنپال، شاعرلیکوال ادیب فیلسوف او نظامی شخصیت، چې د وطن د سوکالئ د پاره يي خپل ځان قرباني کړ خدای بخښلي سید حسن (حسن) چې کله به يي ( شیون) هم تخلص کاوه په یاد ،دا لاندی زما څو څلوریځي د دي مرحوم په یاد کې، او په عین زمان کې د ده دشعرونو هر کلی هم دی ما وییلي:**



## د ستا په یاد

ستا په کړاو کي ، زړه خوږمن لرمه
په رنځ کي پروت یم ، ځنکدن لرمه
په شپه او ورځ دا ستا په یاد وطنه
ژړا **شیون**، د **سید حسن** لرمه

## سید حسن غوندی

چي ملت ته د افغان وي قدر من
د خپل قام په غم غصو کي وي غمجن
د وطن په حال ژړا چي يي شعار وي
بیا پیدا کړي، **سید حسن** غوندی دردمن

## سوځیدل

د وطن په یاد می تل دي ژړیدل
شپه اوورځ يي په غمو کي ، کړیدل
راحت پریښود زحمت واخیست ما په سر
**سید حسن** په خیر می، زده کړه سوځیدل

## داغونه

په غمجن زړه می انبار دي ، ستا یادونه
د بیلتون لمبو لا کیښوده ، داغونه
**سید حسن** په خیر می سر پر سر پراته دي
په قلم قلم زړګي می ، ستاغمونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ